انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان


۰۷ جولای ۲۰۱۲

# مخدره مواد: د لوټمارانو تجارت او د زیارکښانو تباهي

مخدره مواد د لوټمارو او پانګوالو د تجارت اصلي برخه جوړوي. دا پانګوالان، شتمن او ثروتمن د مخدره موادو د قاچاق له لارې پیسې پیدا کوي او بیا یې د سوداګرئ او پانګې اچونې او بانکونو له لارې سپینوي او چرچې وربانديږ کوي. د مخدره موادو اصلي ګټه همدا لوټماران او مافیایي باندونه تر لاسه کوي، خو اصلي قربانیان یې زیارکښان او په خاصه توګه دهقانان دي.

دا وخت په افغانستان کې د میرمنو او ماشومانو په ګډون څه باندې یو میلیون زیارکښه انسانان په مخدره موادو معتاد دي او اوسني دولت چې د پردیو او بهرنیو په مرستو او پیسو ودریدلی دی یوازې د یوه فیصده درملنې توان لري او نور ټول د پلونو لاندې، په کوڅو، څلورلارو او کنډوالو کې د خپل تدریجي مړینې انتظار باسي.

په دې یو میلیون معتادو انسانانو کې ۱۲۰ زره تنه یې میرمنې او ۲۵۰ زره تنه یې د ۱۸ کالو لاندې زلمیان دي چې له دې جملې څخه یوازې ۷۰۰ میرمنې په کابل کې ثبت شوي دي. د اوسني دولت شمیرې ښکاره کوي چې د میرمنو اعتیاد د تیرو کلونو په مقایسه دو چنده زیات شوی دی. په تیرو دوو کلونو کې هغه میرمنې چې د اعتیاد لپاره د کابل په مرکزونو کې ثبت شوی وی، له ۲۰۰ څخه تر ۲۵۰ تنه وې، خو اوس دا شمیره ۷۰۰ تنو ته رسیدلی ده. د میرمنو د اعتیاد اصلي علت بیکاری او فقر او تاوتریخوالی په ګوته شوی دی.

د میرمنو د اعتیاد زیاتیدنه، د میرمنو د مړینې ډیریدنه، په میرمنو جنسي تیرې، له میرمنو سره تاوتریخوالی، د میرمنو سوځونه، د میرمنو د پوزو او غوږونو پرې کول، د میرمنو وژل او د مینې لپاره بندي کول په ښکاره ډول ښیي چې په تیرو لسو کلونو کې هغه چا چې د بهرنیو د واکمنی لپاره تر ټولو زیاته قرباني ورکړې، همدا زیارکښه میرمنې دي. دا قرباني څرګندوي چې هغه چیغې چې بهرنیانو د ښځو د حقونو لپاره وهلې، د زیارکښانو د دوکې او د همدې چیغو لاندې د هغوې د وژلو او لوټولو لپاره وی، ځکه دا معلومه خبره ده چې بهرنیان او هغه هم وسله واله بهرنیان هیڅ ډول حقوق زیارکښانو ته نشي ورکولای، هغه څه چې وسله واله او قاتله بهرنیان زیارکښانو ته ورکوي، مړینه، وژنه، اسارت، اعتیاد، سوالګري، بدلمني، ناروغي، بیوزلي او دا ډول دردونکي شیان دي.